

Ketabton.com

# ورانګه

یوه ورانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندي
بیا پیړۍ په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین هنریار

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ

د هغه ټولو زمریالو

چې د بنیادمو د ښتونو ځنی

تبځندی د ښنو ځولانی او د -

لاسونو ولچکونه پرې کوی او دا

ړنګ آدمزاد خپل قجیر قامت

ته ور جګوی او ژوند نور

غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU 7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوربېدی[1] شي

ځان په ښنش ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکې اوده‌بېدی شي

څه په سر آسمانونې يې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نړغونېدی شي

په خرډک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پلی[7]
لمبریالو چې ملېدی[8] شي

د بازارهنر دې نه نړ ده
که نه يې چتی بازېدی شي

لیت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعیت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګېدل

که سوارهٔ لوی فرعونان دي
که کلیم (ع) شي کونډېدی شي

د برې لارې بند نه دي
که له سره څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میړښکارانو
که په وینه کې د ځان کا
بیاد ختوکوکوشتان ټول
الوتونکی باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا
ړانسکوره زورجهان کا
پرېباسلی او نتلی[1]
د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې میړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل ځپل[2] دي
د زمرو مارې[3] یې ژوند دی
چې د ښنو زمرو د سېل دی

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- ځپل = هوډ، ۳- مارې = ښکار.

ترمې وينې دې سکروټې
ترمې وينې هم رامبېل[1] دی
د خپل تنګ دې پاتې شوي
په ګولنډه[2] دی که په سنبېل دي
ښې خندګه بې کونډې[3] شي
چې څانګې[4] همه رشپېل[5] دي
دا طبيب به دې څنګ روغ کړي
چې بې چارې د شاخېل[6] دي
چې د دروزې[7] بې تښې وي
په وينو پراته غلبېل دي
چې جامه يې کاسېرې[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي
د باتور انګې[10] وروستې ده
مشرې که په چارخوېل[11] دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- ګولنډه = کټه چې دغوېي، څاروي څښتن يې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه يې منع وساتي، ۳- کونډې = کا هې کښې- خلپل، ٤- څانګې = درې غابنې ۵- رشپېل = چې دغلې رشې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خليل کوي يعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغنمو ډنډر- تيلى، ۸- کاسيرې = بدلمنې
۹- چېل = پړونى، ۱۰- انګې = يوه لوبه چې وايي انګې انګې مل دي څوک دي ،
۱۱- چارخويل = قرقره،

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سویل[2] دي
شاید بیا خلیل زرغون کړي
"مومنان" ټول آذرخیل دي

○

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکي وي چې
کلیمې ته یې اړتیا ده

○

د جهان د سمام[3] پېټي
وړي تندي باندې مېړونه
د ملځې نه کله کیږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار برسېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاڅون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اروالي ځمکه، ۲- سویل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس - توزیع

په جرقار چې لړو بر کړي
بلالي(رض) هغه بانګونه [1]
چې دا حُمکه دخدای کورکړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګیالي دي شاه میړونه
لکه حق یې کړه وړه وي
د ننګیال په مټ، په توره
دلته اړ دخښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګیال د مزري زړه وي
تورښنګلونه خوندي وي [2]
حق ننګي یې غرین کړه [3] وي
ساه یې واچوی جوش [4] کې
له پیړو پیړو چې مړه وي
دناحق وړه [5] تول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پړه وي

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورښنګلي = باطل کاره، ۳- غرین کړه = قلا- سنګر
۴- جوشه = تنه ، ۵- وړه = بريالي.

دګيدړ په اوړو نه شي
چې په غړمب دښمنو زمرو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وينو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګيالي يې شي ګولۍ
چې په دار، په غرغرو شي
د تاريخ بهير ګړولی
کله څوک بې هوډيالو شي؟
د راسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لينګو شي
د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو تورياليو شي
د ځيرک مېړانه کله
له درست کلي د رندو شي

---

۱- منښته = زيارتونو ته دورو د پاره په ځان ځه منل، ۲- نارام = ناغيږ- ناراست .

چې رنځور باویړی[1] وکړي

پو چې هیلې د دارو شي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله یې سود په کورکو شي

د ځانګو د کوچني نمڅری[2]

پوره څه رنګ په ځلمو شي

چې د نمر د روښناوي وي

رون په ښنک په اورکو[3] شي

عقل څه خوني آتي دی

راسوري[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سر پوره والی

د حرګي په سیپارو شي

چې له مال خبره واوري

پت په سربانديې پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

دا سرې سرې باله شي

۱- باویړې = بابېړې = د ناروغۍ بیا تاندېدل، ۲- نمړی = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسورېدل = راکرځېدل - راخلاصېدل - راختل.

لوېتې نه تلي صبا څوک

هم يو "زه يم" به تاله شي

ښکلې هغه چې ښيېوه[1] يې

يو د "زه يم" په پساله شي

زه يم هر کله ځلمي دی


دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي

چې دا ځمکه يوکاله[2] شي

په يولوی سين کې غرلې

چرې، چړ، لښتې، ويياله شي



د کتاب حد ماتې مه شي

هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خيوه نه وي

ورانوه لارې زړې

حق به هله ميشته وکا

لومړی غير چې وشړي

يا سړی ياد څرې شه

حق ناحق ولې ولړي

1- ښيېوه = دول - ښايسته والی، 2- کاله = کور

زیبنا کیان چې له مینځ ورک شي
پرکني به شي مړي
لوی آتیان لکه اوګړ(1) کړي
د جګ غر تیږې وړي

○

ستور څارکو دواړه کسي
په څار لوګړل تنها کې
نړۍ وټ یې چرته بیاموند
برد ستورو په دنیا کې

○

له کاروبو او له شکو
سره زر و سنګل ګیر(2) یګرو
الوول حق و ناحق دي
څنګ تراوسه ستړکورو؟

○

د بوذر(3) د کندي خلق
د آذر و د کندي دي
که هرڅو مخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

۱- اوګړه د څارو د خوړلو نه وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تاڼتې، ۲- ګېرګړه ګیري کوونکي

جوړوي د ښېښو مېښي[1]

ځېرکان خوښېبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې یې وکوري دبړ[2] وي

○

د وجود نیستي بلا ده

پرې لهٔ سوختهٔ مارکسان ژاړي

سر نیستی ده د نیش[3] «زه یم»

د وه نیستی کلیمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړېږي

ولې «زه یم» یو توکیز[4] دی

یو توکیزی نه نړېږي

○

حیواني وجود څه دی؟

د حجرو[5] الوولیتیا ده

او حجرې د خاورین توکو

خپل ترمینځه اتحادولیتیا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- دبړ = سنګسار، ۳- نیش = ناشته- نیشت، ٤- یوتوکیز = د یو توکی نه جوړ- چې کډوونیزه نه وي، ۵- حجرې = Cells - ژوندینکی.

دا خاورینه واره تـــوکي
دېر ښېښنکو غوښې دي
او ېر ښېښنکو ته چې ځیر شي
تشي ترقنده ځپې دي

○

دین همه واره سره زر دي
مذهبونه ټول زر نیـــخ
دین ژوندون کاندي غورځانګه
مذهبونه یې چار میخ

○

ګـــرلاسي کندوان یې ډک شول
چې جَب جوب شول په خولو کې
ځارله هغـــو ټـوریـــالیو
چې په خېنز دي سرخېږوکي[1]
غوږه[2] ټوله دې په ځـــان بده
تش لمـــن که یې پسرلو کې
ساده ګوري ملغــــلرې
خُسا ډنډوکو، خرخوړوکي

---

۱- سرخېړی = سرپه ، ۲- غوږه = تومت - ګرم والی - ملامته

دا چې ګوابښ په سترو کېږي

ته هم زوره څه نېزوکي

څه ناویاته چاره وکړه

مېرنيه ! په تلو تلوکې

○

ګوړيمار[1] چې د بمبل وو

هغه سر په مونډو[2] دی

کړولي[3] چې یې د باز وې

په لولکو په شوغو دی

چې د برید او د غدې وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جرګې پرې ښایسته وې

هغه شرم د جرګو دی

چې ښتن د لوی اخور وُ

اوس د پوچو کسبېدو دی

د تیرو تورو بوُر[4]کی وُ

د بې سترکو د کندو[5] دی

---

۱- کوړیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه تکی ویشتونکی ۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تیلی خمتې نه ښکنه وچې کمتې لوېتی، ۳- کړولي = د ښکار ځیکولو، ښارلو د پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بور = زمری، ٥ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځينې نامينده

ښه د خوشو عقيدو دی

بازداري يو لوی هنر دی

ته په يو بېله[1] بازداري يې
چې نه لرې جمبې
په نامه باندې ميشکاري[2] يې
تش غږ بازو وته ناست يې
ښه که ځوېږې د لوی بلاري يې
ته مير ښکاره کړېږ غواړې
په ښه ښه مرداري يې
يې په تومنه له ويارلو
خو په چارو کې د ويار[3] يې
له قرآن نه غير هذا
بې صلوٰة مونځ گذاري يې
کله سر گرېوان ته کوز کړه
چې داولې دومره خواري يې؟

---

۱- بېله = د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- ميشکار = بازوان، ۳- ويار = شرم.

چې ټولنه قرآني وي
دا سړي به شهسري[1] وي
دا تنزري تاروګي به
بیا بازونه وهندي وي
دا پربوتي، دا اِنسټ[2] به
بیا ښتري آسماني وي
چې نومړي په قام قام دي
بیا به ټول یو آدمځي[3] وي
د نن شخولي[4] او کاټي[5] به
صبا توري او توبري وي
په وندړي[6] ځمکې د نن به
نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي
نه به پولي، نه بیلتون وي
نه نها، نه زمایي وي
یو آدم، یو آدمتاله[7]
په کښ رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسري = سترسړي، ۲- پرېوتي اِنسټ = بوهتي دی، ۳- آدمځي = د آدم زامن، ٤- شخوله = درسته، ۵- کاټي = تیکي، ٦- وندړي = داسې حلال کړي ځلوړي چې پکې خلقو برخې (وندړي) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګني (ځمکزي یا آدمزي) راټول وي یا سره راټاله وي

آدمخُوني[1] به یو کور وي
وران به کورکې کورکي وي

درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسي[2] وي

نه مړي نه به ښخښتن وي
نه به غټ، نه به نری وي

نه کاواک، نه به بې واک وي
چې لله به تولواکې وي

تولنوال به تولنوال له
رب، رحیم وي، او ولي وي

هم به یې کسب خالقي وي
هم توره[3] به یې رازقي وي

وی پاځون لکه یو تن به
یو تاله به مختکي[4] وي

له ختیځه ترلویدیځه
به یو ستره ورورولي وي

په حدونود کتاب کې
به دعقل خپل مخي[5] وي

1- آدمخُوني = خُمکه ، 2- جسي = ورتیا ، اهلیت ، 3- توره = قانون - توه - ترلي لاره - لاره ، 4- مختکی = مخکې تګ ، 5- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځاربړي به له ټولو
ټول له یوه به لوکي وي
له قبلو دې کډه وړو
به یوه کعبه مونده(۱) وي
له زرها اوړ او رکو به
د ځړی یو رنهایي وي
سرې ټول به سره سیال وي
په فطرت(۲) به یې ستروا کي وي

○

ستا خیرې درست کائنات دی
ته لاکوز په خرخشي(۳) یې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښنه(۴) یې
ژوند له تنه کډو(۵) نیز دی
ته ځان ځانې به ترخوي یې

---

۱- مونده = راکښل، ناوړه- دغوبل دمینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر- دبنیا دم نه پرته نور ټول کائنات، ۳- خرخشي = جنګونه، ۴- دبښنه = دښمني، ۵- کډوبیزي پهٔ کډه هستیدونکي.

ځمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترینن د کورکوټي
یو کور[1] په واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلو یې
د یوې مجرې ژړیدنده
د مجرو په بیل ګلو یې

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن مجرې کا یو لې
دا خواره واره قامونه
ستامرام یو وروروري ده
نه ملکري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
دا وسلې د مرګ لاهو کا
سُرد امن کا تارونه
پدې ځمکې - آدمځوني
بیا برسیر کا جنتونه

۱- کوږمه = کورنۍ.

يو كتاب دى سرتوره[1] كا
نور ونغاړه كتابونه
بيا آزاد په آدمزاد كا
پارچاو[2] شوى نعمتونه

زول چاپېره سور الوزي
ډډ ويزاره راپريوځي
له دې چې قند ناتار به
هم پاخه ښځتې وځي

چې د ژوند ځله يې مړه شي
چې يې ساه دلينګو وځي
راخوره شي پرې دلوړو
او په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بردى
دعوه ګير دكتاب ګوره
دهمه قامونو لر دى

---

۱- سرتوره = دسر قانون - اساسي قانون - بنسټيز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زردارو په ټولنې
دي ګټونکي په بایلــــنې
د شته منو شته مني ده
د نیستمنو له نه ببښــــنې
د ماړو کوږنې[1] جوړېږي
د تش[2] بانو له څــــرمنې
د زردار مــاڼۍ ولاړې
د کارګر په تــنې پـــلنې
د ډک[3] لاس سپینه جامه ده
د تش لاســو په ریمــنې[4]
بده ورځ د لــولنــګرو[5]
دازل نه دي لیکــــنې
د باطل ټولنې پایــــې
د مذهب په سرویځنې[6]

---

۱- کوږنې = پېزار، ۲- تش بامنې = نیستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس یې ډک وي
٤ - ریمنه = خیرنه - خیچنه، ٥- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه یا دویتس نه لري، ٦- سرویځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

وګړي ټول که آذري غواړي

څښتن له تا نه خليلي غواړي

د فرعوني سپاره کوزولوله

واړه وختونه کليمي غواړي

په تشو ټيکو که ګټي کېږي

د ننګ ډګر لا شه حلمي غواړي

وګړي ټول سرړ قوي او پايي

حق د ميړه غوندې ژوندي غواړي

ښکيلاکي عمر دخارو ودې ګوري[1]

ژوندی آدم به مخ کښي غواړي

داباسين خونړي نيزاوچلي[2]

د جاليوانو سرهنګي غواړي

په هسک او تل د حقيقت لټول

تل سربېري لېوني غواړي

چې د څښتن لاره د ب کولی شي هم

ژوند داسې زيږ او هک سرېږي غواړي

---

١- وګورئ = خبردار ، ٢- نيزاوچلي = سيلاب او چپې.

○

د هِګ قامونو په خرخشو کې
واړه قامونه بې هيڅه دل شي
د ميکياولي د شهزادګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کندکونه به پرې ناتار کړي
کله چې که نتولي زمري نه تهل شي
غښتلي منتې د ځان کلا ده
کمزوري منتې د ځان اجل شي
که سر ببري هوډيالي پاڅي
په رېزکو[1] به داهِګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې ښار دی
چې د حق دلاری ببل دی
په دنيا، په آخر خوار دی
يو ويار[2] لي د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دو ويار دی

---

۱- رېزکي = کوچنۍ- ووړکي- ناشی، ۲- ويار = شرم- پيغور.

چې تېغه[1] کې حق ته ولاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل "زړه" نا روزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که ګوری
ګل ورین هم تنار چار دی

په ټوله چې د ټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خیر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مختار[2] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملي وي دا دوترې
آدمزاد به دوه تپې وي
لرې برې نورې لرې
د ټولنو د لرمون به
زینې لوړې او نهرې

---

۱- تېغه = برش - کړه وړه - نقش -

۲- مختار = روېدار - درونډ.

شي څورلي خلقي به
بې دولتي (۱)، يوه څري (۲)
در په در خاورې په سر به
پرکښې وي لولنګرې
د ټولنو لور شور دا –
خپلو بدو له اشرې
عقوبت په غرغنده شي
چې دکيا (۳) وي اورد سرې
تر اوسه تګ د ادم ار دی
په يو ورځې برابرې
چې پرې دروي کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبرې (٤)

PROPERTY OF ACKU 7990

دا چې خان خانتوره (٥) بولي
دا چې هر څو ته شمله دی
نيسمنان په کمنده (٦) نيسي
وايي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولت = چې دولت نه لري، ۲- يوه څري = چې يوازې وي، ۳- دکيا = چې لوګې کوي،
٤- مخبرې = په بر مخ، ٥- خانتوره = خان چې ترل پر انستل کوي چې د توري خان وي،
٦- کمنده = کم ذات - کم اصل - کم سيال

له ازل، وای بې بـربـال یو
نور په برخه شاکنډ(۱) دي
دوی له مخ دخدایه رَغ(۲) دی
نور له پښتو یې زیږ نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نېستمنو کوم ګناه دی
چې نیمګړي، نیم کوره دي؟
او په هره یو ښتولنه
پرځ، پرېوتي او روږه(۳) دي!
که د اصل کړي پوښتنه
آدم زی ټول یوحجره دي
له یوې حجرې راغلي
قام، قبیل، تپه تپه دي
لوړ ژور دی له زېښاکه
شته په نیشو(۴) آلوده(۵) دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنې را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شایي ټکېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روږه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نېستمن، ٥- الوده = ننبتی- اخته

لہ شتہ منو غلچکو بیا
مذهبونہ بدرکه دي

دفرعون دکور د ننه
په پاخون آخر موسیٰ[ع] شي
دباطلو سنا ماران تول
تار پتار یې لہ امسا شي

○

عقل لیت دی، پیوکی ده
پري قدم قدم رونیږي
کلیمه هغه شهٔلیت[1] دی
چې تول ښروند پري جوتیږي

○

د آدم د شاه ځامنو
توری هر کله ښروندی دی
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوری سپوږمی دی

○

د زړه و پیرو کاروونه نه میږونه به بیا کړي
شاه میږه کړي هغه چاري چې پیری پس یې دنیا کړي

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت

چې په ځان پلن[1] سوري نه شي
ټول جهان په ځان وا تنګ کړي
له کونړه چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هو د يالي نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له يوې بلې تپرې ته
د زړګي[2] زمري غورځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني څنګ کړي
ننګ په حق بانديې کوونکی
لکه ځان بانديې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځنې واخلي
بيا ورباندې جهان رنګ کړي

کليمان د ژوندون لاره — رپ د سترګو کې په ړنګ کړي
ځيرکان يې په لټون کې — تر عمرونو سرغونډ کړي

---

۱- پلن سوري = پېسان پلن، ۲- زړګي = پرهار ژلی.

○

دې پکار څه رنګ اړیکي
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ(1) ژوندینکی
یو مونډی(2) زه یم او ده دی
د بدلون پدې ځانډره(3) کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیر(4) مخی رغانه وي
په ناتار د مړک صبابه
میراث مړي هدایره وي

○

د بدلون پدې ناتارکې هم یو «زه یم» دې ځوندي دی
که صورت دې یواړتیا ده نو دا «زه یم» دې مونډي دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول، ۲- مونډی = راکس، ناوې، ۳- ځانډره = همتر- فریم سکلیټ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي

چې موندې یې وي اومږې[2]

د کچبه «زه یم» آدم وي

خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته

نور هر څه چې دي نورپرې

له هر زبرې[4] د هجرې نه

لکه څان هسې رازبرې

○

هم برحق هغه ژوندون دی

چې د «زه یم» په غبرګون دی

که وجود دی که ستولنه

کار د «زه یم» یې پاځون دی

○

چې د «زه یم» په شرنګ نه دی روزنګرې[5] د بدلون دی

د هجرو په کنج کې اوسي او د سترګو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومږې = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.

٤- زبرې = هغه څه چې زیب ول کوي، ۵- روزنګرې = روزنه کوونکی - لویونکی.

ټول فطرت يې خوري تالېږه[1]

آدم ئې جدا جدا وړي

دځانې سود غم خوړونکی

له حق لاري پښې پېشا، وړي

چې په نورو خپله ویش کړي

خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ يې دواړه سبکلي

دځورلو چې دعا وړي

چې له خپل میوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] دژوند جامه ده

چې شي لټ. په هغو واوړي

---

۱- تالېږه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

دژوندون په لویه لارکې
مشالــونه بلــول دي

دتیرو په تورتیپــونو
لښکرونه خپرول دي

کتـابونه دې ردجهل
سوزول او باد ول دي

دآدم نه دې یادکړي
دعمرونو هیرول دي

که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نیښکول[1] دي

که خوندي دي په کعبه کې
چې بتان دی لړول دي

په هرپل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوځول دی

---

۱- نښکول = ورکول- په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سندان تندي به چرې کړونځي نه شي
د درنده وپلکونو جوړکه پرې ناتار وي

د مېړه نېستي يوځوورځې نېستي وي
نه مېړونه شاعري نېسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې همېش له
ښېنتنان دغرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتې[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې توره[2] دحق مل[3] نو خپلوي څوک
يو قدم يې په چا په، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې وړلـه بويه
که رڼا يې لاړ ليدلو له پکار وي

د رباب خواږه دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتي = وركوتي مرغې

۲- توره = قانون - لاره - منله

۳- حق مل = دحق ملګری

٤- ميلس = مجلس

ننګیالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسین کله پښه نیسي له غورځنګه
چې تر څو د ظالمانو نوغې شته دی
حقملان را پسې نه شي څنګ له جنګه
پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او ټول لاندې د کلیمو[٤] تر قلنګه
چې یې مټ د غلیمانو وي کتلی
نه ویرېږي یې له تشه ډنګه د ننګه
د مړدې توره میدان کې لا سپنه کېږي
خلاصه نه وي د کاټې[١] توره له زنګه
پخپل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څو دې نه ده لا کوټې[٢] خاورینه رنګه
چې یې جس د تن په مورکو پېټ پرواوړي
خو د هغه ته وي کړښې د جهان تنګه

---

١- کاټې = تیکی - چړتون

٢- کوټې = د دانې کڅوړه

یو بری د یوجنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان بریښنا اوتالندي که
چې دلوی ښتن د لا سوسره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجرو په جماتونوکي تورتم دی
د پېیوي غوندې لنبه دې په تندي که
د مېړه دځوی آواز له خلقو بېل وي
ځوک به یې څنګه په ټولنکې ګوندي که
چې دخپل عمل لاره[1] ستري کړل
ځوک به څنګ هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې دښارو و به څنګه وځي
چې په مینه مینه څټ ته غوږوندي که
چې یې ویږ دنوري له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاک ګوندې که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته د غاړې

له خپل تنه پلواښه[1] شه

د ټپانده اباسين خپل

لکه غاړې په ساته شه

د کړيز سختۍ په ځان کړه

پسته باز په الوته شه

په خپل ځان قيد ونه کېږده

زرغونه شه او بيا شته شه

پولې ړنګه، پانګې[2] کېږده

بيا په زغاښت لکه مېږه شه

د ښتن د لارې مل شه

له خښتن ځنې لارغه[3] شه

په ريبلوچې ورک نه شې

په لوښه[4] لکه واښه شه

د ختيځ له الا الله -

لا الله د پرېواته شه

---

١- پلواښه = مروړې - پلکواښه ، ٢- پانګې = مېړ- ډک - مرام

٣- لارغه = لرغوني - وړاندې ، ٤- لوښه = خصلت - خوی

○

په ټولنو لیوګان که دي

هر وګړي لوی اوکړ[1] دی

لونګ څکه په نیش دي

درناوی چې په دوستر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

څوک تاله، څوک تالانګی دی

چې درنه ډله[2] یې مله[3] ده

د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

څوک یې موړ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

د خان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن ډګیا[4] سوسر[5] دی

---

۱- اوکړ = اولاد، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګري، ٤- ډګیا = لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر = د ډرو سپیاکو او د چې نری نری لرګی کوي.

○

چې زمانه ښکلې بدې مېتې
وا به نه خلې توري ځمتې
په ګټونو یې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستایي د نیکه ګټې
د یوه ماته، باتې سوی
د تورګټ سوی دیوټ یې
نه نښتر او نه چنار شوی
څه د تورو خاورو خټ یې !
دا میدان د تېرو تورو
ستا مصري توري دي سمتې
چونګ ایره یې پاتې شوی
وي انکار د دریې ستې
حق ننګ انو ته وریتېږي
د بې ننګ هر کاله بتې
لات منات چې ګډاري څوک
شي پخپله یخې ګټې

خړې، ځکه شوې، خیالي نه شوې

د «لا» شي ځنې شی نه شـــوې

د جس ترغی نه نا مینده

تل نڅه شوې کښې نه شـــوې

تشه شخوله ـ خـــالي تـیکی

بمبل توره، توبرې نه شـــوې

له حجرې ـــ تر سرې راغلې

لاپه «زه یم» سـرې نه شـــوې

له مـذهب چې ـــ ملستل دی

لدې مرېنې ثړوندی نه شـــوې

انځاره کې ـــ چې دی پروت دی

هغه ستر آدم زی نه شـــوې

مبنګیری درته آسمـان دی

ځکه باز، باتورزې نه شـــوې

هر آدم چې ـــ دی فرعون کړ

پې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱ـ انځاره انځور ـ زړی ـ نقش

۲ـ ځانوکی ـ ځانواکی

(c) kitaablaro.com The Digital Library

د وګړو سالار پروت دی
خو سواره چې شاهسواران کړي
د کوڅو لارو کسو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
ګوګوشتان داو موختو
سندان سري اتلان کړي
لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړوپېچ[1] واړه یو ځان کړي
چې سړي یې نه سړی کړل
راغوزار هغه بتان کړي
د لالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدر بري
را د بر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ټول
په رېښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپېچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړ و.

په میروکې د هر کلونه راټوکېږي
سره په وینو د لاله پکې جوړه ده

ننګیالي دي چې د لوی ښښتن په لارې
پوره ترکړي د نړۍ ټوله بار[1] ده

ته تنزړی یې، د نیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دې اډاره[2] ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه کوي
زړغونه دي له ژوند کومه کلیمه ده

هوښیاري[3] په ټیوړوند دی، ښکار تر نشي
که نه یې نن هم پرته هغه دوګزه ده

دګزی[4] غشی دې هر وختې په سر دی
په دیدوان[5] باندې دې اره پړه، وړه ده

صبا ښکه د شولان کټو ته مخې
که دې نن کټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئولیت - ذمه واري - پړه، ۲- اداره = وړانه - کمې - لوټې،
۳- هوښیاري = ښکاري، ٤- دګزی غشی = دوړې پرې ګوزار،
۵- دیدوان = شیش - څیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کور هسې یې غار
لکه اوښ هسې یې سوري
لکه پښه هسې پیزار
لکه باز هسې یې ماری
هسې باز لکه میښکار
لکه ږیره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره ګټه
ژبه هومره څومره کار
د اوچت الوتو پانګې
د شهپرو په مقدار
د دیوې رڼا تر کوره
نور په ټول جهان او ښار
د بې ننګه په رنګ ده پروي
ننګیالي نه لري سار
چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړیږي لار

لا پې ډېر وکړي کاندي
یو منصور ختیږي په دار
د بې متو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمرو نه اخستلی
سورلنډی[1] شي کله ښکار
د اتیانوس باری وي
په ملخانو کړمار[2]
کلیمان نه شو تول عمر
له خدايي چارو ونړ کار

مذهبونه دی پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپلې ماتې بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب یې رواسته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چې ځان له دوړېږي
دی عبث د انځورونو کړاوونه .

۱- سورلنډی = ګیدړ، ۲- کړمار = یو غوږ دی، ۳- غربین = یو ټوټک ،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل ، ٥- رواسته = وراسته .

له مذهب یې چې تودې وینې کتګل شوې
مسلمان یا یلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولې یې په نیش دې استونه

د مذهب د غوندلانو(۱) تنستو کې
ګل ډیوکی(۲) دي دعلم د پوهتونه

له مذهبه هک ځلمی تول ریز کې شي
ریزکونه کله کیږي لوی کارونه

تکی تکی دکتاب نن هم هغه دی
خو مذهب ترې نه وښکلی دی ساهونه

چې ترڅو دغه مذهب او د ملا دی
وي تالا به د تالا قامونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردي ده
توربازي دی تیغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
یوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غوندل = غټ غمي
۲- ګل ډیوکی = د ګل ډیوې

لە فطرت دي پرده ده

لە فطرت دي سرزوري ده

کليمه دي سر يتوب دی

سر يتوب دي سر هسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

○

په ړوندی کليمه بيا خلق ړوندي که

دا لە وارو وړستو شوي بيا لومړي که

دا چي خاوري يي لە مخه نه چانړي

د سپوږمۍ په دود مخونه يي پرقندي که

وروونه ورونه سره غوښي په چاره کړي

لە ټولينه ړوندونه وړکه کوند کونډي که

شاه ميړونه لە زرګونو ستوروتيرشول

بېړي راښکه خپل ملګري ګرندي که

د هغې يي ننګه خلقو مرګ روا دی

چي ګزران د بل په سوي کرپندي که

د پسرلي درنه وريځه شه په خوی کي

ځان وړښت، ګله برېښنا اوتالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هند و خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوره و کاکسیره تلل نه ده
د ایلتیانو(۱) کلي ورانول نه ده
د راسمنانو يې سمول نه ده
که اوندي(۲) جوندي د دوپرک(۳) وي
د یکرنګانو غوښې کول زده
مذهب له ځایه را غورزول کړي
کتاب يې ځای ته بر خېژول زده
چو ګوړکان هم کراولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان يې موزي(۴) کران کړي
نو کلیمان يې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي(۵) نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وراني پیدا کوونکي، ۲- اوندي جوندي = مزغروني چې غوښې رښتیني نه وي، ۳- دوپرک = دورنګ - منافق، ۴- موزیکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړي ډک وي، ۵- بتکورکي = بتخانه.

○

دباتورپه شوشهپرو خپلولو

مښکیرک او غلیوانه باتورېږي

دیوبُت په لړپېدلو بُت غلیمو!

سومنا تونه په کعبو کې نه بداېږي

له کیکره د نښتر پیوند خوړو کی

نښتر هیڅکله نښترنه پاتې کېږي

چې په پړو کو دي وژلي مذهبونو

هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي

چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا ړوي

دغه سوي چنارونه نه تاندېږي

دقرآن واړه رڼلی عقیدې نن

دمذهب په کتابونو کې ساهېږي

د تیروسره ملستې بناپیرک نن

درنا په تکی مرک ته ببرېږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت یه
مریتوب نه - ملکیري د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشونی نه دی
یومخیزي[1] ځیګروړه ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو کټې نه شي
د ژوند ستونځې مېړنی قهرمان غواړي

په یو مار که کاوزشي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي نوی ماری زمریان غواړي

---

١- یومخیزي = چې مخ یې یوه وي - د یوې مفکورې.

O

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې ډېر اوچت اوچت ښکارونه کوي

ښکته له ځمکې نه تر ټولو ستوري تلیز[1]
کراولې کړي ، یرغلونه کوي

لوګینز[2]، اوړېزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي

رهبر، کراو دی ټول دعقل چې نن
برېښ دژوندی تومن نځونه کوي

د آدم کار دی کائنات پرزول
برهغه قام ، چې دا کارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتی اړولي
دهسکو ستر کو معاشونه کوي

عقل بهیر کړغور ځسنګی دشعور
ویږویرانې ټول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټاره دې سوالونه کوي

---

۱- ستوري تلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګیز = دګازو ریځ یا نیبولا ،
۳- اوړیزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په څنګ، فطرت په ترڅ

تشې ځاندې وي، زورېې اوبه وي

عقل يې شل وي، هڅې يې ګټه

په غټوګوري، ولې ړانده

نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي

اوبه پرې ورانه که چرې نه وي

دځوانمردانو دقط نه وځي

نه يې خوابد وي، نه يې تراخه وي

په "نن په زه يم" دوارو نيستمن شي

ځوراک يخساک يې خواږه او ښنه وي

په زاړه شخوند کړي، نوی ترې نه شي

نوی بريدونه خودمېړه وي

چې يې راغونډه کړي واړه کړلي

ديو ګنجکي دا ز ښت نه وي

د لسو کېنو د لړمون نه
اوږېن ستورې راغونځېږي
ستورتلیزې سروهي لا
کائنات لا پراخېږي
که یو ستوری ورژېږي
نوی سل راو ټوکېږي
د ښوندون زرغونېدو له
نوې ځمکې سادېنېږي
چرته ښوند دی په بخښنچه
چرته کچ، چرته ځوانېږي
د زرها ستورو میرو کې
د ښوندون غبرې غبېږي
یوه ستا دا ځمکه نه ده
چې ساه دار پکې هستېږي
شنخرې ځمکې سبکته بورته
ستورتلینو کې څرخېږي
هغه ځمکه ستا دوتر دی
چې دې لاس وروړسېږي

عقوبت به له دې څمکې
درته کېږي په سر کېږي

د مېږونو ستورو ېږي دي
له سپوږمۍ مو ستوري تاوېږي

ديونوي کوږ لتون کې
د آسمان لاري چانېږي

عقوبت دا ځمکني به
ستورک زو ته ورسېږي

د شوندو ن خومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

○

قيامتي[1] پاينده هغه اوښتون شي
لا الا سره چي کله يې برغون شي

د عبرت مرې يې کړځي په ملکونو
کوم فرعون چي له کليم په ستور پرېښون شي

داولس وينې نه ښيونکي هله ورک شي
دربريا[2] اولس چي کله په پاڅون شي

داو يار لې ځلي هسې ولاړ نه دي
د مردې کار ونه ډېر په ښوا خون شي

چي په سين داوراو وينو شي وريورې
قافله يو قدم مخکې د شهوندون شي

که هر څو مره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هر فرعون شي

چنيشني[3] عقيدې چي غاړه باسي
د هغو خلقو تولنه مريستون[4] شي

---

۱- قيامتي پاينده = تل پائېدونکی، ۲- دربريا = خطر- نتلی- څپلی،

۳- چنيشني = چي چنا سکې پکې شوې وي، ٤- مريستون = هديره.

○

د دوران په زلزلو غورځونو وارغړي

په شکلني ډيروکی څه له ويار ېږي

تلناوونه يي رواسته، موږ ی خوړلی

چاړ کېږدی کي به ترخوپوري اوسېږي

د پرلسبتر په چورلندوځمکي له تللي

کچه ډيلي! په خپل خېږڅه غلطېږي

د سورسين چپې دمه وښکه له يادو

ای فرعونه! چي کليمٔ پسي پاڅېږي

د ملغ څانګ سړدي ملاشوله دوه غبرګي

ته لاځي داَتي بارته لاندې کېږي

لاالٰه بتکور کوته ښکرپوکل دی

که مؤمن يي تروروستی بت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي
کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر وړته د ګډو خپوړ لښکر شي
کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مِس ځوانان چې ترې نه وځي نوسره زر شي
ننګیالي په جهان پتې را تلي نه شي
دوی د هرې سرخیرۍ[2] وتلي سر شي
د هر کوډ انغري تود، تیاره شي وړه که
میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي
له تونکه[3] د عیسی چې نمړۍ وخوري
که د ختو کوګشتان وي په ورز شي
د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چیني هم د بدرلیچور شي

---

۱- لړه کوز
۲- سرخیرۍ = د جنګ غالي سرپه
۳- تونګ = شکور

دغلیم د برید او چغې(۱) حاجت نشته
لاس تر کریوو چې پخپله سنګروال شي

دکور، قام بدخورمنځي(۲) په ځان ناتار دی
په تیغه که باتوران وي تش پیڅال(۳) شي

تانګ دکتې، د یرغل یې د لاس وځي
چې د چار اتلونکي توري نه اتال(۴) شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه
د روزنه لو چې څوک نه وي کوتې لال شي

جماتونه، مدرسې او چینې د پرشول
خوله چا هغه بانګونه د بلال شي

چې د خاورو له کالبوته
او ده "زه یم" برسیرن شي
په اجل باندې جلا شي
بنیادم و لاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه، ۲- بدخورمنځي = بې اتفاقي - اروپیچ، ۳- پیڅال = د باتورغل - غرباره، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوندون دغور ځنګونولوی میدان دی
چاته پُوله نه سپوږمۍ اونه آسمان دی

دفطرت غیږه پرانستې ده هرچاته
بُود دهرچا هم په قدر دخپل توان دی

دا په تاده جوړه وي کائنې که توره
خپور چاپېره د جنګړو واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمې تولې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیادمو پوره په ځان دی

چې یې زده د سورکوونو کښېدې دي
د هوهۍ ښاخه کمې پدې جهان دی

د باتورلمثی دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل د لوړې وږ[1] ثاڼ دی

چې سرمزي د نوښت[2] یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- وږی ثاڼ، وږی انوونکی، ۲- نوښت، پیلات- ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډۍ چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسرکې
د هوډي هڅې و باسي لارې غرکې
توربر سینونه يې پخپله غماز کرشي
مېړه کله پټېدی شي په لښکرکې
"ستوروڼا"[1] کرښی د ځمکې کړله ماته
ښخوي بیرغ د ستوروخپل دوتړ کې
مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدی څادرکې
زهري خوږه په یوماری ورپېوځي
بله ماره يې نیولی وي نظرکې
مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د مېړونو وي سنګرکې
هره ونه خپله مېوه نیسي
چامونډلی دی کروسکی په کیکرکې

---

۱- ستوروڼا = (یه و زن د مرجوڼا) د سنوړو ښکاري

زردار هغه کورکښان دي
چې ژړوندي بنیادمان خوري
سړيخور په پټه يې نه خوري
سنه برسېر يې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري
یو وَری یې په شا پروټ وي
بل شپې لښتې بارګیران خوري
د باطلو رواجونو ده —
په برمته يې بې کسان خوري
روایات راپاڅېدلي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کلیمان وار وخپل ځان خوري

چې په منځ د هوډ دیالوځي
لار يې خود کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سوري شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اور ځني ونه ځي
نو هغه پڅې اومې وي

له چيو چې انګوچه شي
پولادي هغه سينې وي

چې جنګړېزې ژوندانه وي
د برم ډکې يې شملې وي

چې د متې مجال يې نه وي
د هغو نا ندرې ګيلې وي

د باتورو هنې ګوره
څه که يو موټې بنې وي

چې وهي د تنګسې تورې
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړيانې يې تاو نه شي
نو هغه لیندۍ پېکې وي

چې وهي د تنګسې تورې
په هغو کله تنګسې وي
سپوږمۍ، ستوري، ستورتیلینې
د مېړونو برآمتي وي
د سرهنګو غورځنګونه
د تاریخ زرزرینې وي
د اخلاص د شاهسوارانو
منزل لوی، لارې توښې وي
چې منګل یې د زمرو وي
د هغو مارې سنګې وي
په راسمنو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي
پرناورې سنګر بایلي
وینې سترګې پلیتې وي
دوږنګ تښتې کړي پري خانه
چې د بدر ترپسې وي
د مېړونو لوی لاسونه
خپله توري او بلې وي
د ګیدړو په نصیب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

---

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولې

د هغو دا کې سپېرې وي

چې له ژوندا متې وخوري

زور یې تول په موسلې وي

د مړژواکو مسئلو کې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښې هم ځان سره کوږکړي

چې یې خپلې پښې کږې وي

دیوړوغ دسیالۍ نه وي

د ړندوکه پړکنې وي

○

قام ډلې ډلې تورو تور بربنډ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر ډليت خپلې ډلې ته سنه وايي
دغه دستور د ډله بازۍ دی

پلويان راوړي، ناحق به حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د ليړې دی

چې "جرګه غړي[3]" ټول شته منان وي
واړه هيواد دی ونډه ونډه دی

کاواکه دروغې واکمنې ډلې
څوک يې د مخې دکاواکۍ دی

د "سلاغونډه[4]" سپيڅلې لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکي = ديموکراسي.

۲- قامي جرګه = پارلمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

۴- سلاغونډه = د شورى غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شروند يې دکتاب په رنګ کې رنګ دی
چيلي نه اوسنکی په سمڅو، په لغمونو
بمبل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دننګ قامتو" سراوسنکي
سالاري يې په نرې پورې قلنګ دی
هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپېره يې د سنه سرپېټوب ډ ننګ دی
هم يې کټه، هم يې مخ ملا زي وركړه
خپل پردي يې په نما نځنه باندې زنګ دی
د زيارت خوروو ته نا ستې بې كتابه!
ستا كور لاري ولايت د پلي لنګ دی

منكران په دليلونو منكران دی
او مُلا د بې دليل مذهب امام دی
روښان خياله نه كافر دی، نه منونكی
د تسپو سرګروان يې له ناكام دی

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي ډکه
چې یې خم پخپله وچ او نسکور جام دی

پوهګوي توري ترهېبري، ځي په دړه
چې ملا ورشبکاره کړي کوم اسلام دی

لیشتکی له لیشتکي مفکوري زېږي
ځان وګوره په جهان دې څومره سام دی

مذهبونه په کړي د نیمسانو
دښته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

خدای څرندی مال یې میرات دی
څه بې کچه ناروا دي

دي د ټولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي

دا د الله د دوران سر دی
دوتریان چې په کړ بادي

د هغو لپه چې تاوېږي
له پېروونه چې په غلا دي

له زما، له زمایي نه
پساتونه په دنیا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بندبنا

چې لېسنې ترې لاس نيو کړي
شاه مېړونه د الله دي
امانت د اوليا دی
چې له تا ځنې سوا دی

چې د حق او د باطل ګډوډ را شي
د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شي
چې توره[1] يې د بتانو لاس ول وي
خدای دې وکوماري اته هغه مېړه شي
چې يې غل غدو له ويرې بلوسنه کړي
په مور چلو د قام ويښ هغه ليمه شي
چې مړه شوايي ولسونه پرې رغيږي
که يې سل ځله توکې، هغه تارخه شي
څه زرغونې زرغونې کوي چاقهرمان ته
که ملا و ترې، هغه توريال به ته شي
غروره غرونه واورې هله به شي ويلي
چې د نمر پښان پرې سوربه ايښېدو شي
چې يوه پلار کنې وه مانځي اولس ټول
ته به هم د اولسيا سره په ولسه[2] شي

۱- توره = دستور- قانون ، ۲- په ولسه په دوډی- پښتنه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم باله شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشې بیا پلوشینې شولې
د سربښندنې کرامت وکوره
د ازغو غېږې ګلورینې شولې
د پلار خېږه دې کائنات دې واړه
کاش چې دې تورې بیا پلرینې شولې
باتورزي خپله به راوزین وي
که دېروکې دې ماښینې[1] شولې
غړاو راغه یې شیخ ملي ونیول
چې د زمري سترګې تندرینې شولې
د تورانې لېونۍ کرېکې سره
څانګې غړانګې سندرینې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرینې شولې

---

۱- ماښې = یوغر

○

کلیمي لره شړوندي زړونه پکار دي
او ورله لوټې په پنډ کله پیدا کیږي
په خوږلن کې له بحر کو توغږیدونکو
تر آسمان شړبه کوونکي او تاند پسرلیا
چې یې نو د تنې وچ، ځیلی شړوستي شي
په کږو وږو شیبونه راټوکیږي
د مذهب په ګڼ خوږلو لختو لړو
د سرسوري د قاموسونو جوړیږیا
هغه ځلمی بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکو نه پورته کیږي

○

مړه یوکي مذهبونه
لاري یا نه شي رښوولی
د بوذرؓ انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

○

د شړوندون او بزدي کیسو له کائنات به چاڼول وي
له موجود ځنې پشسا به ترلوګیزي پورې تلل ویا

○

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي

چې پرې کسرې وي وختونو

ګويا ځان لره توزيز(۱) کړي

د کوږونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نيم سول شته، نه سرېښته

د خليل همت دې تود اوسه

د آذر چې بت کړه شته

○

د هندو عقيدو بنار کې

انقلاب رابرسېرن شي

د زړو خدايانو مخ چې

ولسات ته کرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبې

بتکورونه رانسکور شي

چې د زړونو په ورشو کې

حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزيز = بندوبس

○

خلیلان چې له تولـــنې

د خدایانو وړه کول کــړي

نولو مړي د دې خدایانو

خدایي ورپوچ کول کــړي

○

کلیمان دفـــرعــونـانو

پاچایي هله غــوزار کړي

چې بې لاړې ولسات تول

د دلیل په زور په لار کړي

○

دکلیم د درنې پـرګــ(۱)ـې

خلقي وي وار زبــرګې

هم یې کتــه ، هم بخښــنه

هم یې مت وي هم یې سترګې

○

چې د وخت اړی کــړي کې

بچای تینګ لکه د غــرو

د خپل پوخ «زه یم» په مرسته

د همه پرګنو ســــرو

○

۱- پرګې = پرګنې .

اوسې تش د عقل اندېښنو سره
ځې په تياره لار اوړ اوړکو سره
عقل که سقراط دی، بريالی نه شو
ګرېوې په لاس د ړ شوکشالو سره
ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښنو سره
لا تر اوسه لرې له خپل ډکه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره
کله په يوې کله په بله ځې
درومې دې نيلې د برېوکو سره
وينې اوښکې وچې شې لنبې کښېنې
عقل چې بلد شي الله هو سره
راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه ای ځيرکه کليم زو سره

آدم زی له مړییتوب ځنې آزاد کا
د "ماکانَ لِبَشَرٍ"[1] سبق ور یاد کا

چې د بل د خولو وږم تري راخېژي
د هغو ماڼو کړکچو خوړ بنیاد کا

د آذر د بُت خانې لړولو ورستو
شړې ور! ورځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غر قیدو شي کلیم وایې
د دوران فرعونه! نن ئي خدای راپاد کا

په لوخړو کلی پټ ، په وینو ډوب دی
د کوچنی فکر سالار دې څه فساد کا

د مرې په ځای څښتن چې زورتیسي
د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

لهٔ کړیوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاړه کنډکچکول کا

لا اِلاّ چې یې توره شي د ټولـنې
هغې ډب به یرغلونه د منګـول کا

---

(١) (ما كانَ لبشرٍ ان يؤتيه الله الكتاب ... ثم يقولو للناسِ كونوا عباداً لي ...)

حق باطل تو ړي تور برېښ دی تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د هر قامونو نه دي غوندي او بو وړي
په سین غاړه له بارګیر خوشي پرزول کا

رسېدلی په خپل "زه یم" شاه مېړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا

داکاني یوازې تېرو خلقو نه کړي
خلق اوس هم په ژوندو لونه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سر پېخواره دي
په پردو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چې ځانکړي سود پسې یې شي وکړي
په ټولنه کې سوراوو په غورغنده وشي

د شته منو شته مني چې خُمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شي

چې بې وس دي دوسدارود سیالي شي
د زرداره تپې دا کله پیرزوینه وشي

دوتریان د لوښو غمونه نه خوري
له لېوه کله زره سوی د شپنکو شي

زړ داري د پردو وینو لوی اغیرړی
اغیرلي عقوبت په چاودېدو شـــي
الا مي د او بنستون د قلِ الْعَفْـو ؟
دوترونه چې ورو-ورو په کمېدو شـي
هغه کار چې کلیمانو ته اتـال دی
هغه کله له مارکس او له روسو شي

له د ستورد باتورانو چې بې ډک دي
خود په جاله کې پیدا یې مښنکیرک دي
چې یې ژوند د خدائی لارې په لاروي
هغی سیال دی، هم برخېن، هم په پلوخپلک دي
د مېړونو لار د اکې آسماني لاره
مزغروته لارې تل د دوپړک دي
له ساده ایمانه ځار یې فلسفي شه
څښتنان چې دلروکی د بتک دي
شپنکی کوره غرضونو شړنخان کړل
په برمت ارم په غوښود کندړک دي
د ننکیال واړه کارونه هــلي ځــلي
د نیمنو، بې اسرو په کومک دي

تور[1] ښنکلي پرې برې راولي نه شي

چې د بدر، د حنين توري ترملا دي

الاجي غونډې دا نه راوړي يوځاى له

شاه ځلمي له شاه ځلموکه شاپه شا دي

ننګيالي د سر زړه وکي د تور سر و

ننګيالي ځکې شملي داوليــــا دي

فرعونان يې چې په مکر کوټ ښکار کړي

زر کول يې بيا کارونه د موسىؑ دي

يو کتاب و چې امت پرې ټول راټول وو

يو کتاب دى، اولړوه[2] دوه اويـــا دي

هر دليت[3] د خپلي ډلي د وزړې[4] وايي

او اَمي خلق حريان، چرته ربنتيا دي!

---

۱- تور ښنکلي = چې توره ښنکل لري، د باطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوند ونه - ډلې.

۳- دليت = د ډلې غړى.

۴- دوزړى = ثنا - صفت.

○

د ځرې[1] تنګسې کې ښې کې
څرونده کله ځائيږي
څرونده غځېږي، او چتېږي
ځرّه خورېږي او سمسورېږي
د ځرې وجود د خير دی
چې پرې "زه يم" شيرازېږي
د وجود دنيا تاغېر خورې
"زه يم" کله تاغېږي
د ښتن په ليکه "زه يم"
خپل قامت ورته رسېږي
د ځرې ځاندره شي څنګه
"زه يم" هر کله پائېږي

○

د له د خدای ماتې خوړلی نه شي
څوک يې ترلې پرانستلی نه شي
توره به ستا د موزيکې توره وي
د ميړه توره پڅېدلی نه شي

---

۱. ځرّه = (لکه واوځرّه) ماده - چې ځای ونيسي وزن ولري. Matter -

د ګیدړ برخې دي هرچا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ د الا هو پېژني
څوک یې په سنګرې ورختلی نه شي
زمانه هرڅومره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي
د غیرتمنو د کټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک کښېنلی نه شي

د خیکونو(۱) خاوندان چې ار و بېچ شي
رسوي به څوک جاله وایه کو درته
ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک ارې بلرونه پردې ورته
په زنارکې تسپې و پیلې خلقو
یو مخیزې مسلمان چې لاړشي چرته!
د خلیل نوم د ثواب دپاره اخلي
ژوندانه دې تول ناري وهي آذر ته

---
۱- خیګ = شناز

خدای دې توان د مېړنو یات د شا ځلمو کړي
چې په نره ورکېوتي دې لوی غر ته
د کلیم د پرې خلق هم هغه دی
نیمګړتیاوې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پښوار د محمد (ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دی تیږې بیا ورولي
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپي
دا د بدر له میدان راغلي ستړي سولي
د کعبې په توره کټه لوظ کوونکو
د سرونو په بازو غاړې خلاصولې
صدقه د وینو سرو د پښتیالو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چا کولې
سمندر یې خیری غوځ کا خپلې غېږ کې
که او به دالکه و ورځې ختولي [1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سړه ناست دی
خو که ستړي لېونو بیا وغړولې

---

۱- ختولي: چې د ختو لړو کې وي.

پڅه مه شه د توریال د مړدی توره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه
د ښوونډی مفکورې[۱] خپله دومره ځواک[۲] وي
بې لښکرو کړي رالاندي هیوادونه
انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
چې راځي بورېبوړکي انقلابونه
یو بیرغ د محمد[ص] به تل رپاندوي
نور دځیلمی[۳] دي بادوړي بیرغونه
هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
رازېږي نور او مه او پړه رنګونه
سرچینه یې چې شي وچه، ډنډاوي شي
په غومبا روان اکاو[٤] اکاو سیندونه
د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[۵] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- ځواک = زور- قدرت،
۳- دځیلمی = ټول- سراسر، ٤- اکاو = بردم- ډک،
۵- شناختې = خازي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندۍ یې د ځلمو شهوتي پرګې شي
چې یې ګډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلوالۍ کورزې جنډې شي
راسمني د مشرانو چې یې نه وي
بې درنې پکرۍ پلرینې یې ښنې ښنې[2] شي
لا شه تورې بنیادم تشې کاڼې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شاد و غوندې پیښې کړې د قامونو
چې یې جس د نو ښتون بسمې بسمې شي
چم په چم دی له خاورینې دیوې ګرځه
له دیوې نه عقوبت بلې دیوې شي

کږ شومڵي[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د ژوند شاربل کړي
د مېږو لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- ښنې ښنې = ریښې ریښې، ۳- شومڵې = تروې- شلومبې .

چې په ګلر د شهزاده[1] شي

هغه دوه ژبي ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره

چې دستور د کلیم خپل کړي

دره یونیم په نیزه وړي

که آسونه د پیر تېغل کړي

د ښې ورځې په تکل کې

خلق توري هم کال کړي

د کالا کوتر و ته ګوره

چې په نمر پسې غپل کړي

دبا توړانو نوغي[2] دې خور کړ

درته دي پاتې تش پیخالونه

دلبه[3] مرداره ځنډ وي لاس کې

تش تېپوسان پرې کوي سودونه[4]

د چتو ښکاري د وګزې نه کړي

هونبايي ګرځي نيسي بازونه

---

۱- شهزاد د [illegible] کیا ولی دکتاب نوم ، ۲- نوغی = اصل - نوغی خورول - بیخ وړکول ، ۳- دلبه = غوښنه - طمع ، ٤- سود = مینه

چې پرې اړې وي د باتورانو
نه ښکاري هغه د ننګ نښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وايي کوم کتابونه؟
غرابين زنګ شه، او توري پښې
پاتې ملا دی، يا يې بانګونه

وګړي ګوره په غورزنو وپرزو
نمرې له يو بل راشوکول کړي
کاروانه واره د لاس سبري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندل کړي
د شته منانو د ښکان راپښه دي
دښمنانو ونډې وېشل کړي
يو پېچو رهم خپل نوغي نه خوري
آدم لګيا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمڅو[1] پسې رانده شول
څوک په اوبزمکو[2] شوندو[3] وهل کړي

---

۱- خمڅي = د نرو جوارو دوډۍ - خوار خواره، ۲- اوبزمک = غوړه زېړه خوراکه - شاهي خواره، ۳- شوندو وهل = لکه څاروي چې، په کياه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لولنګر نښته

ځمکه وال ځمکې را انغاړل کړي

د وریتو غوښو د دوزې خېژي

خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

د ځمکې مخ چې په بلهوا رئ

دا انقلاب دی، هم دا پکار دی

چې سپور او پلی سره یو سیال کړي

هغه رېښتینی کاروان سالار دی

وار ته دې څه له زړغی زړغی کړي

نن را اوچت شه هم نن دې وار دی

میړه د عقل، غوښې د ښکار خوري

د عقله پلی پخپله ښکار دی

هر سړی ځانته ترخنه توبزي

یو څو ماړه دی، نور ولس خوار دی

کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی

یو سر او بل سر عالم بې لار دی

د ننه په تن کې زړه زرغون نه کا

بهر بیا ګوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بېلتون کله ګډون دی
کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د زمانې بدلولو نه وي
د دوران کوڅړې خوره اوشه بدل

درناوی او سپکاوی په جسوار دی
ستا په لاس ده که ګټي او سې که نل

تښه توره ګوری لار د ګټې نه ده
توریالیه! چې څوک شولي حق مسل

ساد، هغه چې په خولو يې د تندي خوري
تیار خوړدی د همه ولسیا غَسَل

دیکرنګو ګوګل پاک وي تل له ویرې
درغلان او دورنګان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکېږي
اوس وهي به يې دا یلبند شمال او ربل

حقتولنې ځنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورزنېږي

## دککوړي دسرې ټوکړې دپاره

آدم زوی بل آدم وته ټيټيږي
يوشته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نېستمنان خو په چغ شوي تل اوسيږي
دناچاروکته باندې کټوي باندې
د چارمنو کټوي بې کتې پخېږي
د بې وسو د خولو په ترمو څاڅکو
دوسدارومانۍ رنګ، خمې ډکېږي
درناوي چې په موړۍ[1] یا په دوتروي
لولنګر به په کنجکه خود ارزېږي
بې اسرې آسمان ته غړندې غړندې اړې
په ظالم چې به لاکله نسکورېږي
په زوخړه به يې غروته شي ټول ويلي
په لړمون دځمکې داسې اورختېږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنيادم څه دی؟ نه شي دی
ټولنيزه ژوند سمسور دسرې جس کا
د ټولنې مدعا واړه سرې دی

1- موړۍ = پانګه،

په ټولنه ریزکی لوی قهرمان شي
بې ټولنې قهرمان هم لیشتکی دی

چې ټولنه دې آدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د ټولنې سره مل ، د ځان ښارن شه
چې ستا "زه یم" د شړوندون ځانګړی شی دی

چې ټولنه یې باره[1] دارتیا[2] نا خلي
هر بنجشی خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وار نړۍ یوه کورمه کړي
د یوې کورمې خوتل یوانګړی دی

دا زغوله ویخه ستړګي را ټوکیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څه وینږي
سرې لمبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري د زړونو پټ غلونه را نیسي
د مړو پیت پړک هم په تیچه وي

شرق ناتاریې د ختونونیمه خواکړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیښتی ، ۲- ارتیا = ضرورت- نیګرتیا- کړمه -

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي

ولسونه خو ګڼ خوړ يې ارکجه وي

○

د شنډې تخم کرونکي  عقوبت وي برخه شنډه

خېږ يې څه کړي چې نه مومي  ځوک يې وېږي له درست وندو

○

چې د شمال او شړوندانه دواړه ترکات شي

سرلوړي به دي هله په ولسات شي

چې نیستي د نېسمنانو نه غوځېږي

او ردي پوړي په داسې خیرخیرات شي

ولسونه په مېړونو شړوندي اوسي

چې مېړونه په نیش لکي، خودمیرات شي

شریعت چې په انډول(۱) دخپل وخت نه وي

عقیدې واړه ذکتې لات منات شي

د شړوندون پانې په خپلې سکې(۲) کېږي

هغه ورک دی چې پیرې يې په میرات(۳) شي

چې يې منډه نه له دين نه له سادينه

د شړوندون خوابږه په داسې ولس قات شي

---

۱- انډول = تول، ۲- سکه = سرمایه - راس المال، ۳- میرات = Grace - لږه وربخښنه .

د هغې او ښې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځني زيات شي

هر غورځنګ[1] ته دو رنګان ور ښوځي
ځان دي پوهه په دې تکې هر سالار کړي
تا بيا کړانه د بهر د غليم نه ده
کور غليمي په اتبار اتبار ګـونه ار کـړي
د دو رنګو[2] وي نظر په خپلو ګـټـو
کله غاړه کې تسپې کله زنـار کړي
چې د ننګ خبره راشي کور غاري شي
تش ميدان کې به د هوزو تود بازار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دي له دښمن سره روزګـار کړي
دوه مخيزه شروند په نه شروندو ليکه[3] دی
يو مخيزه شاه ځلمي يو مخيز کار کړي

---

۱- غورځنګ = تحـريک - خوځند

۲- دورنګ = دوپرک - دوه ژبې - منافق

۳- ليکه = حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم خپل جس دی سړيتوب خاورې ايرې کړی
د دورنګ عمر په ځان باندې ستم دی

څښتن ټول د قدر وړ دي پيدا کړي
يو سړی د بل سړی نه په څه کم دی

تړبيمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس ګرم دی

ستور ته ليږو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود يې په کلونو د شرم دی

باتوران چې د کونترو ځای له را شي
ای ويږلو! زړه چاودی د غه غم دی

دې ټولنو او دودونو ليشتکی کړ
کم نه دی لوی له کائناته بنيادم دی

په لويديځ کې لږ له عقله رڼايي ده
په ختيځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نمړيتار[2] چې د فرعون وي زامن نه دي
زامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

---

۱- تړبيمار: وهل تړل ، ۲- نمړيتار: د بل ډوډی ته ناست .

چې یې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسه نه وي جابر را بغـول کړي

چې د بل په سترګو وینې تول راڼده دي
روغ هغه چې یې پخپله ځیرول کړي

نه سړي شو چې سړي یې خدایان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزړی، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي

ننګیالی دښوند نیمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کـړي

په ذروکې یې چې ستورې زرغون نکړل
هغې خوشی لور په لوته تیرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګیاله په رشـې

ښا پیرکۍ په تورو څڅو سر ښـاسي
سور پیاشه ختیځ رانولي پلوشې

د بازونو باتورانو پدې قات کـې
تپوسانو ځنې غـوره دی باشـې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی
ترڅو پټېږي رښتینګوي به یې مشمشې [1]
لا لیدلي یې بو رستر کې کلیم نه دی
ځکه ګرځي فرعونان لا په نشې
د حق ډوکه له خپل ځای ښوولی نشي
د باطل داشد تو نه خرخشې [2]
اروپېچ چې له نقشې د کائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

چې د نمر سترګه وبرېښي
غرونه واوري کاندي ویلې
حق بریال پرون هم نن دی
که یې نښته څوک په سیلي [3]
د اوبو د مخ کیل نه دی
کلیمه د کاڼي کیلي [4]
د نښتر د سیالۍ نه شوې
که په خېږ شوې ډېرې ډیلي [5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده = ډنډوره، ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلی = ملاتړ
٤- کیلي = کرښې، ٥- ډیله = یو وابنه.

بدخوګ بدونه نه وايي
خلق شوي داسې ايلې
چې رنځور باوېړي[1] وکړي
پوچې شي د دارو هيلې
له پولاد اصيلي زيږي
خړې نه زيږي اصيلې
چې نښتر له برمه درومي
نه ټينګيږي په يونيلې

لکه کس کړي په ځان غاړې
هسې قام په ځان کانې[2] کړي
د هرچا ټبر له تن دی
خپلې سپينې خپله پرې کړي
هر څوک قبر ځان له کني
هر څوک خپلې جنازې کړي
غليان له کوره زيږي
پلمه بازخه له پلمې کړي
هرڅوک ځان ته تبې[3] سرې کړي
بيا يې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باویړي = د ناروغۍ بيا تاندېدل، ۲- کانې = شندې غاړې، ۳- تبې = د کټې تبخې

خپل عمل بــری ښښـــن دی

خپل عمل په غاړه پــــړې کړي

څښتن ظلم تیــری نه کـړي

هر څوک خپله د یـوې مړې کړي

د فـرعون دکـور له درنــده[1]

کلـیان جگې نښـــزې کـړی

○

په مسـور[2] و باتورنه ښکوې نوکې

د تنزبو تو دې وینې پې مسوروې

د ننګیال کرلې خټرې ، سمسوبرې

میرې وان اوسینخرې که سوسر[3] وې

د دوران تا بیاد هغه چا دوس ده

بغ ښتنو ښوندون چې پې نظروې

د تاریخ نتول نرزوی پرکونه سینې

چې مدام د ننګیالو موټی لښکر وې

ننګوان به خوشحق د لارې تښتي

د هر یو لار به آخر پدې خیبر وې

---

۱- درنده = غولی - جوَس .

۲- مسور = دمنو کومنو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = دو کیاکبدونکی اور .

علیمه لوی چیناگر دی تل ترتله په غور ځنګ
سوسرونه پری سپرلین دي سیمه سیمه پری ګلرنګ

دکشرمشرفرق خوخود وی
ځښتن لومړی دی وروسته په تنه یې
دیونه کچ یې په نوروبـــــره
هغه قجیره، ځواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
ځکه دې غوره[1] پخپل سراخلي
دهغه مټ یې، دهغه کړه یې
دهغه مل یې، په زړیم بسیـل یې
له سین زورغونه بربوکېږي نه یې
په سپکوکانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لاخبر نه یې

---

۱ـ غوره ـ تورتهمت (... فلم تقتلوهم ولكن الله قتلهم ...)

○

په درست عمر کې بونږه[1] دی نه ده کړې

دادی بازدی وهنده او دا میشکار یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې

ډکانی غوځکی یې ټول عمر په لار یې

نه دی برید، نه دې ولجه، نه دی مبنود څه

هسې لوت[2] یې او د ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې

په نظر د صرافانو کُټ بنګار یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې

ولې اوس هم زناري یې، بُت ګزار یې

لږ زه پښنه ونیسه فکر له ځان وکړه

چې دا ولې له همه قامونو خوار یې

چې همدغه مذهبونه دې امساوې

لکه رونده ګړنګونو به غوزار یې

○

د غلیمانو په مسودونــــــــــــــــــــن

چې زنارونه ؤ، هغه تسپې دي

---

۱- بُونږه = لومړې ښکار کول، ۲- لوت = بې هډو وکو ځانده.

ـــکتاب کښلی، باطله کړي

دکتاب مینځ نن هغه کیسې دي

انځور هم هغه خدائي انځور دی

ولې پرې شوې پوچ کښېدې دي

چې خلیلانو راړنګ ولې

دامنیانو هغه کعبې دي

داچې یې نړولې دکلیمو خېژي

چې ویخ یې کوي بې کلیمې دي

دمذهب شروتې لیندې په لاس دي

ځکه یې ویشتې تل مونږې دي

چې حق ننګي وه ځلمي وغشي

چې بې ننګي شوه ځلمي ډرمې دي

دباتورو دور تېر ده پر

لږه ناسته یې په ځاله

دشړوند برړ(۱) دکي، راځي پتي(۲)

دنصیب لیک ته اتاله

چې نیستي په هستي مارلي(۳)

څه به خلاص شي له زواله

---

۱- برړ = سیالي، ۲- پتي = وروستي، ۳- مارل = حسابول.

چې یې ټکره کلیمه ده
ولې نه دي ټول را ټـــاله؟
بازداري دې خپله ستاېي
په دېوال له تش پېغـــاله!!
په ننړۍ باران پسخه شـــي
اوم غـرڼ لونبې ګلاله!
د بل کټې ته په طمـــع!
هیڅوک نه کټي یې تالــه

خواره برسیره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر ټولنه که هرڅو تــرخــه ده
تیرې به وي ترهغې څــلې څلې
چې دي دېو پاندې دېوه څومره ده
حُجره، جُمات کې یې رېښتیا وویل
له یو مخیزنه ولسیا خپـــه ده
د رابیا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سروغنو چا په چاپه ده
د صبا لاره څوک د ب کولی نه شــي
منمه داوخت تکه توره شپه ده

په سپوږمۍ کوږشه مېړنی وویل
دا د بې رنګه لارې لومړی کړپه ده

ښه عمل «زه یم» ړغون کړي
بد عمل د «زه یم» ړنګ شي

چې په «زه یم» شهسړی[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي

شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخی شي دوړنګ شي

بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاوړو رنګ شي

چې سمسور یې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي

مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي

په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

[1] شهسړی = سترسړی - لوی سړی .

کښېنېده پرې ستا عمل دی

که دې "زړه یم" سرانځور دی

شوسره هسکه دلې هوري

چې په "زړه یم" کې سمسور دی

چې څوانکه[1] یې شي تورکې

تش لمنی، هم مختور دی

ای د ښېښې غم خوړکو!

ښېښه هم، خوش وند څه نوردی

دې آدم، آدم په زړه یم

بې له زړه یم د آخور دی

چې د تش نس او د نوس شي

سرې ذات پوري پېغور دی

د مېړونو تېرو تورو چورنګ یو رل

د اتي په امبالې چې غورمېدل

د هغو څاړوبنه بنه الوزي

سرچپه چې جوړه بازته نېغېدل

---

۱- څوانکه: د زړې یا تخم هغه شونې تیا چې زرغونه ترې کېږي.

دهغو په طبیلو خوږونه رغښتي
چې له حق ځني ناحق ته اوړېدل

چې خوړلي سوګندونه یې دوفا وو
دار یې یښې په اوږو وګرځېدل

د رندو کلي کي کراني خرمهرې وې
او لالونه یې سوپیاکو خرڅېدل

دکلیم په برخه دا رنګي مژدواک و
چې له واکه بې واکي ته پسخېدل

دمېړونو پولادي متې سنګر وي
تور برېښونه یې شملې دقام دسروي

په پوړونو دجمات خوبونه نه کړي
یرغلونه دباطل چې یې په سر وي

دمېړونو نغري کوندري شړیک وي
شیخ ملي دوتر یې وارث یو دوتر وي

مخور دنړانې هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستي نړۍ وروي

دنړم چینه به یې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځبلي دنښتر وي

په نیزوکې یې دورځنګو ستوري والړ شي
ننګیالي د نمر خاته ختلی نمر وي

که ډینګان لري هر څو ستوري وزري
لویې ماري د باتورو په ځیګر وي

چې کاسیر وي په پړونې کې بربنډ وي
حیا خپله حیاناکو له څادر وي

پردې بد شي د کتهوی خپلې ننګولې (۱)
بدې کړونې خپلو بدو له اشر وي

د میړونو د ښکوت هم دغه دود دی
یا د هیر تول ماره یا تهول نهر وي

○

چې یوه یې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کنجي لاس (۲) وي
په توده کې یک جلب (۳) وي

○

نه نوره د کائنات ده — نه د شرونه دستور او لاره
چې یو څو دې په وله (٤) وي — او د نورو برخه خواره

---

۱- ننګولې = پخکرې - لمده بل، ۲- کنجي لاس = خپلو کې کلک لاس نه ورکړې.
۳- یک جلب = چې آسونه یې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = ماره - هوسا.

د میړونو لار(۱) لومړی توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي
د میړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي
هغې مټې بډې راکاږي او نر شي
د قام مشر هم د قام په جامه بویه(۲)
چې ولس یې د شړه وي، شړیوړ شي
زمانه که ببر شوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې ښخې کړي تورغر شي
چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خلقې خوشې ککر شي
د سینا په دونهه پنډ تول سربري
دیوې دونمې ترمخه یو تبر شي
برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخې(٤) که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بویه = پکار دی، ۳- برغو = سنکر - تورم،
٤- بنجخې = درې خچې (په اصل کې دوې بوټي سرغوته وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تور بريښ چې په ميدان کې جنګيالي وي
سر څيرې کې يې وتلي ننګيالي وي
په خپل کور کلي کې د بر خلق نامستو وي
حقملاڼ په ولسات کې نوميالي وي
چې کليم ورته بيرغ د يرغل ور کړي
که په هره غاړه مخ کړي، بريالي وي
کليمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د ميړونو خو هم دغه دوه کالي وي
که لوی شی دی هغه منډ د ابدالي دی
په دا څه که د چا توره ابدالي وي
په سومنات د غوا بين په خوله بانګ وايي
چې په خټه کې يې ګډه بلالي (رض) وي

بازدارې پورې پيغور شولي بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تېپوسان شول
په ټولنه کې رنها پوښتې رانغله
که وکړې ټول د سيلمې نه حاجيان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړوکې يو څوکه کليمان شول
چې ډيوې يې ستا پلرينې واخستلې
د ميړي له ځايه پورته شو آتيان شول
د همت سپاره دې وبو ګنبدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبګان شول
زمريالى له خپلې مارې پرشانه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

اى تورانکى اوردزړه ونـولـه
ستا يوه کوکه ورکېدلى نه شـي
ستره شلونه دا زغـو که وي تـل
د ستر کو لاره څوک نيولى نه شـي
د ګيدړانو په اور ړوکې چـرې
د زمري غورځېب خطا کېدلى نه شي
چې شي لاس برى د فطرت په لاړو
په هغو چرګ را پربوتلى نه شي
د نن په ګټه چې يې سود کړيدى
د صبايي ميدان ګټلى نه شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له دې څمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل نړوي سره اوړلی نه شي
په شاه میرې یې انګازه شوېده
که یې بنجخی نن لیدلی نه شي

چې دلېچو زور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګېز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو متو سره کلیمه نه وي
که د غورپښان تومن وي تارپتار شي
له دستور د کاڼنا ته څنګ وختي
د کندو انبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میراني شي کولی
چې د خېټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بریه
خرېک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکي ولې ناویسا یې
هم بخرکي چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه ړاستي د سروي هېچرې خيم نه خوري
که پرې تېر د خزانونو ترېمار شي

د باطل د وېښتکي خو کليمه ده

له نېمګړو مفکورو هېڅ نه وېرېږي
ډېر قامونه به د ځمکې له مخ ورک وو
خو د ټکه سره تېغ نه وږي کېږي
زېږړي[1] ټول سمسورېدل څو وخت تر منځ کړي
تلوار ګړندو! ديګ په وار باندې تودېږي
پلويانو د روسو او لينن! واورئ
دا نړۍ ستاسو په وړاندې به نوړېږيا
بنسټونه د ړوندون په يوه حال وي
ادا ښې مګر له وخت سره نوړېږي
ټول بدلون يا نه بدلون ړوندانه ندی
خوار هغه دی چې يو لور ته ځنګزنېږي

په شونکار دا باسين چې شوی پور ته
ولې چپ يې د ماڼکی سندره نه کړه

---

۱- زېږړي = زړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ړاکونه د خزان نړکونه تېر شول
خو د سړوي شنه جامه يې زړه نه کړه

چې رښتيا ويل د کومو خولو توږوه
بر په داريې له رښتيا و بله نه کړه

راغلل ډېر انقلابونه د لې هورې
ولې درسته يو سالار کليمه نه کړه

مېړنى په مېړني پسې لوګى شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه

تېرو تورو، تهمتونو او خوږيږې هم
هيڅ کچه د يتيالو عقيده نه کړه

چې د سروونو پياشې پکې ځلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لاړو چلېږي

سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په يوه څه نه ارزېږي

ککرې د کليمانو وي تل هسکې
شکروري ککرې ورته ټيټېږي

حقملان له زمانې وي پيرې مخکې
خلق نور د زمانې په دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګیږي دی
غل د رغل به له جنګ غالي پښاکیږي
نه دې خپله غاړه خلاصه په مړینه کا
دې نه مه ګوره چې کله صبا کیږي

دمیره له متو پاڅه — د ناحق جهان نسکور کا
په چینجنو وستو ګړ ګو — بود هیره پورې اور کا
دا خدایان د ټینګې نه دی — ولې نه سترګې د بوّر[1] کا
د قامونو ونډې ځمکه — د آدم تالیزه کور کا
دا د غوښو تش لوښو نه — په ځلقا د جسو نور کا
د ښښتن په ګنبد وګې
خپلې چارې دې انځور کا

په تیرو تورو برغنده ځي
ننګیالي ځي په خپل منده ځي
دمیره د خولــــــــــــوونږم
د سپرلو له ګرده ونده ځي

---

۱- بوّر = نړمری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خښتنه چې هم غني وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بويه
چې د خلقو په مرکه ځي
د تسپو خاوند ته خير دی
که ځي دار لره، لونه ځي
وسپينږې خټې(۱) را وړه
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه مومي
څه يې ويره بيا له اوره
زړې مات وړوکي کوږ کړي
شي همغاړې له شهکوره
په چرسو(۲) به ترخو سود کړي
کائنات ځنې پلن پسوره
د زړې ځای پکې وړک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

---

۱ـ خټ = کميس - پمنۍ، ۲ـ چرسو = تنګ ځای

سرپخیره تل پاتېږي
خیر دي نشته سرپخوره!
د فطرت په هنداره کښي
له ځښتنه ځان ته ګوره

○

چي ځان من دی هغه کس دی
چي ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غرونه لړېږي
څه ارزښت د لي د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړی چي په جَس دی
د هوسو د غزالي[1] نه
دزمري ورتېره وس دی
په زرګونو دلو سَرَو[2] له
یو بخری داور بس دی
ګرندو پري بېره ګل کړه
د مېږه وُ کاروان پس دی

---

۱- غزاله = د هوسو سېل
۲- سرو = یووا ښه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لکه کرګس
په درست قام یې لګولي
له پېړو راسې ګرګس
دوی ړنمین له سره واخلي
قام له پاتې شي یکرس
روزي دې بکاندي ولس ته
بیاکوي مانځه او دس
د بې وس وندې کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لا تركضوا» وخت لنډ دی
لاکوئ هوا هوس

چې څټکوي ظالمان شي
سینه یخه د جهان شي
چې خدایان پر مخې پرېوځي
را اوچت بنیادمان شي

چې ځانګړي دوتړ ورک شي
په توبنه لولنګران شي
کلیمه هله په پښو شي
د باطل یبو رجل چې وران شي
زورداري کې ځانا ځان وي
کلیمه کې ټول یو ځان شي

پدې ښځرو پرکښو کې
هم هغه ځلمي انځور دی
چې د ټول نوغې دخیره
همه چارو کې حقطور دی

پوره جسو شه بیا ګوره
چې یو تن ښځنګه لښکر شي
د میړه له چارو برینبي
په تندی اخستی غوړ شي
هر د ځو برخېز تیا ده
چې خرډک پاځي نښتر شي
له تني زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پیری تل سحر شي

چې ښروندې وي د ښکار ځله

تودې وينې خو د شهپر شي

زمرين ګوا ښنه شاه ځلموته

سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورمې دي

ځکه يې غشي بې پلې دي

چې له بازه چېتو ته ناست دي

پيغالونه يې ولچې دي

ولسات لکه تنزري

د ښکاريانو په ښچې دي

د بل مخه يې بتوله مخه

پرکنې نه دي ترمې دي

د نمرود وسيلې وايي

له آذر يې عقيدې دي

چې نو مرې په سرو دي

د سرو تشي پيښې دي

د باتور نخښې يې نشته

لا ملخې تولې جوتې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو شرق زغملونه دي
دا پړې دومره اوږدې دي
پکې زه یم بوده نه شمه
وجود تښې تنستې دي

د آدم ځانګړی "زه یم" لکه حق صمد احد دی
تن زانه دی ولې زه یم لم یلد ولم یولد دی

د هر زړي په درون کې د خپل ستر وجود انځور وي
تبغ، تنه، ځانګې کلونه یې هم کامونه په خپل لور وي

د یکرنګه برید مېرونه نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوا بزه لرنه دي که ساره نه شي متونه
لمن خپې، ځادر خور کا د سپرلي د پېر دي ګلونه
ته لا میشت په سر پراوې ژوند دي شخړې پړاوونه
خونې خونې ستور تلېږي تازه نه کړه یو خونه
که تنها کوته کښېني شي کوته به مزلونه
قدم تېز کړه، چې غربېږي ستوره تلو کې جرسونه
یوه ورځ به درته راشي
ستورګزونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذري غونډې شي تور غر شي
وړانګه کړه شي په وړانګې
ړا دبره نوی نمر شي
چې حجرې غښتلي پاڅي
نو د هڅګ ځاندرو سحر شي
ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپینګیر سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نو څوغې نوی په سر شي
شهسواران چې یک جلب شي
د بړدونو(۱) لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

(۱) برړدونه = ولجې، مال، غنیمت.

دژوند پېتې شي مخ لسوځي
چې شو ګیر تېره نشتر شي
چې ګټل بخښل توره شي
بیا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وینښ شي
پوچ خدایان هله ړبر شي

○

دوجود توره زېږون دی اود «زه یم» نوښتون دی
نوښتون کړه دژوند تره نوښت «زه یم» له پاڅون دی

◯

یوغورځی دی اباسین دی غروند غرونه دی یو پنیز دی
یوه هڅه دی سپوږمۍ ده یو پېرغل دی ستوریځلیز دی
له تش ستور لاس اوچت شوی اوس دهرغوره غوریز دی
ستا دتورې له تکوره کائنات تول سندریز دی
غره راغه دې له همته ګل لمنې ګل مخیز دی
لا دژوند غرمه ده لرې
داخو اوس لا سو رکهیز دی

کـه د ښـه ونـد نقشونـه د پـردې
تـه د واړه ښـه وندانـځـورېـې
نور ښه وندون دې همه پـلی
همـ یـو تـه یـې چې شهسوریې
واړه ستوکي یو یو رنګ دي
ته له رنګـه سپـرلي طوریـې
د هوسي پـه سترګـه د ښـه
هم بـاتور کسی د بـوریـې
د ذري پـه ځـانـدره نمریـې
پـه قطره سمندر سپـوریـې
تـه پـه خـمـکـه کې آسمان یې
پـه سـره او بـوکې اوریـې
د لشي سـره پيـا[1] ښه یې
لا شـه تـوره ، هم تکوریـې
چې راغونده شي موتي خاوري
کائنات شي چې ورخوریې
د هجرو پـه ارونکـه کـې
لـه ظاهرلـیده ښه نوریـې

---

۱ - پیاځه : د شاتو د ګ ګبین

نور کورونه په تا تنګ دي
نه هم سیال د خدای د کور یې

مفکورې به د هېرې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې
چې یې ښن سندرې وایي
په صبا یې وایي ساندې

په ټولنوکې ږغونه — دا د ډیوې او مشالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دی — د خولو وینو رنګونه
د شاه متو الامې یې — اسمانکه سنګرونه
ګنبدې یې د ګړاو دي — ویر سپیرلي شالیزارونه
د ناغوسترکو شوګیرې — شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګړېزې یې — خوږې وګړې شولانونه
د عقلي مبنود رشه یې — هڅوبونه، تهذیبونه

د ځلي د نرګس غږن دی — پسرلی یې تا نګه راتلی شي
په اړکه چاپېریال هم — انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګسنو نه — مله د لارې تولیدی شي

میړه مل که د ښښتن دی　　له ښښتن ننګي کېدی شي
د تیرو ازغوله تخرګه　　نوی ټرونډ راشترکېدی شی

دفرعون له خپله درنده
کلیمان راپاڅېدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دی　　لا ډېر لري له خپل ډګ دي
که په ټومنه باتوران دي　　لا په چاروکې لولک دي
فلسفیان یې هلک فکره　　لا، له زړه یې بې درک دي
په دې ویړ لوی کائنات کې　　په یو ځمکه، نمرتاوک دي
که خپلوا که ډېر ځان بولي　　چې یې ګوری لا بل وک دي
د شپانه ښاریې لا نه زده　　شرمخان د خپل کندک دي
لا یې عقل ډېر کچبه دی　　لا په ډېر جهلو نو کلک دي
د سربنوره نغوتکو　　په لاسونوکې لینزک دي

زبینا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولک دي

لا په سر یې فرعونان شته　　لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي　　لا دو چې ډېر خدایان شته
د ولاړي حُکه نه شول　　چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسیحا خېژي — لا لنډ پاري مذهبیان شته
خلیلان شړوني کنړي — د آذر لا لښکریان شته
هر نوښت ته کفر وایي — لا مخ تختي زناریان شته
قلمونه په اور سوځي — لا د علم غلیان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی — لا د قام، خاوري بتان شته

سړیتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به راځي، ادمزی چي
له خپل ځانه اشنا کیږي
د خښتن او دخپل زړه یم
په اړیکو چي رسیږي
وخت به راځي دا حیوان چي
د سړي په پښو پاڅیږي
وخت به راځي پوچ خدایان چي
د بربري، نسکوریږي
او د جهل کتابونه
د خنداتوکي جوړیږي
وخت به راځي کائنات چي
ستر آدم ته بیا تیتیږي

د آدم په پاڅېدوکې
لا د وېرو پېرو ځنډ دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په ښخته کې لوی کولند دی

ته په ټول کائنات برېږې — خوله ځانه بې خبرېږې
ملغلره یې په زړه یم — که سپیږه په تن بهرېږې
په یوڅاڅکي کې توپان یې — په ذرې دننه غرېږې
برسېرنه که لاک ښکارې — چې په جسم شي نوسره زرېږې
ستا توبرۍ توره دې "زه یم" — هم په "زه یم" ولجه ګرېږې
که ورستي راغلی کاروان کې — خودواره کاروان سرېږې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی — د بهرهستۍ په چېرېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه — لا د نیم ځان روزنګرېږې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځورګرېږې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زی دي
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سری دی

الکتاب په ادم زونـــی
لا نښودن آخرني دی
که هر څوره لغوني دی
خو هر زن کې صباني دی

حق لا اوس هـم نا ويلی
که ويلی دنـدلې دی
فرعوني دی په خمار کې
نازیږي کليمې دی
چرګ پرېوتی سیلاب زوځي
نوح پلوی بې بېړۍ دی
د کعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتې نه دی
دالیندی واړه بې ژړۍ دی
خلق خبتي د بتـکور دی
ځکه ښځې آذرې دی
ناپوهي د هر وګړي
په وګړي په غدی دی

مفکوري پوچې نیمګړې

بکیلکونه، تیزندی دی

چې خوندي دي کړوروړه شه

چې دي وبازه خوندي شه

لاس په ظلم پورته شوی

بېرته شرق په خپل تندي شه

دباتوروجس يې بايلل

چې دچتووهندي شه

پولې پاڅي آدم وخوري

چې دپولوځای بندي شه

دخلیل بېرې ته وېتی

دبتانو وهندي شه

چا تونګ د اسمان وخوړ

څوک پخلا په کړېندي شه

ځوندانه تول یو ځانیز دی

که هرڅومره ګڼ رنګین دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د ګلو په بـــو مخــه
که هر ګلي بل مخــیز دی

په یو بم په زیر جار وځــي
دار باب که زر تا ریــز دی

لاړې لاړې یوشهـــلاړه
ټــــــل ټلی، یوشهټلیز دی

ستور ټلیز ستور ټلیز کور کور
کائنات یوشهکوریز دی

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشې غوندې څــیز دی

خو ځمکه زی په شوني تیاو
د همه شروند د توزیــز دی

○

په تنز ومت کـــیراو کړه
شیش بیا واخله ویرجهان ته

چې ذره په ولکه واخـــلې
متی رابنکه بیا شلمـــان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړې وبـــاسه آسمـــان ته

له بېلې درياب ته واوړه
له تنګۍ نه پلن دامان ته
غوږ کمنه په لينده کړه
بيا ورکښېوږه ښخ کمان ته
له سيمرغو دې د پرښو ونډ وکړه
لاس کړه اوږد نمرود ويښان ته
پوهه بوځه ځيرکتيا له
ځيرکي راښکه ايمان ته
په نرۍ ورخوړېدو کې
ګرځېدلی اوسه ځان ته

PROPERTY OF ARIC
Established

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**